# مولانا روح الأمین صاحب

## خطبه استقباليه

## داکوړی په اجتماع کښ

باسم الا له الملك الرحمن ذی العز والقدرة والسلطان والحمدللّٰه على الأ ئه، أحمده والحمد من نعمائه أبدع خلقاًلم يكن فكانا واظهر الحجة والبياناً وارسل الرسل بحق ساطع قاهر كل باطل وقامع وجعل الخاتم للنبوة احمد ذالشفاعة المرجوة الصادق المهذب المطهرا صلى عليه وسلم ربنا فاكثرا ـ

حضرات! ددے مزکے ذره ذره په خپلے نیکنجتے او خوش اقبالئے باندِ نازکوی چه نن دے ته د ملك د فخر انسانيت شخصيتونو دپائے بوسئے شرف حاصل شویدے اوددے داقبال ستو رے په انتهائی عروج دے چه پدیکښ نن دیو پاك اودانسانی شرف دمابه الامتیاز مقصد د پاره دهغو لویولو یو عالمانو او



فاضلانو اجتماع شویده چه دهغوی قابل احترام اونورانی وجودونه د بر عظیم پاکستان دملی او دینی آسمان دپاره نمو اوسپوګمبیئے حیثیت لری دداسے مزکے دلویئی اودشرف نقشه یو صاحبداں په داسے الفاظو کښ راخکلے ده

آسمان سجده کند بهر زمینے که برد
یك دو کس یك دو نفس بهر خوابنشیند

چه دا کوړی مزکه ددوئی د پاکو قد مونود فیضان له برکته نن د آسمان سره د همسرئی دعویٰ کوی نو دابه څه بے ځا یه نه وی

ځمامحترمو! زه د ه تاریخی اجتماع متعلق دڅه عرض کولونه ړومبے داخپل اهم فرض ګنړم چه دخپلے خطبے ابتدا د هغی واجب الاحترامو میلمنو په خوش امدید سره وکړم چاچه محض د اللّٰه تعالیٰ د رضا حاصله ولو دپاره دګرمئی اودسفر صعوبتونه برداشت کړی دی او په نورو ډیروا همو ذمه دارواومشاغلو باندے دوئے خپل مذهبی دارالعلوم په اجلاس کښ دشرکت کولو او دے ته خپل قابل فخر سرپرستی بخلو فریضے ته فوقیت او سبقت ورکړیدے دا شرکت ددے خبرے پوره ثبوت دے چه که یو مسلمان په هر ځائے کښ اوپه هر مسند وی دمذهب خدمت اولین فرض ګنړی ددے فرض ادا کولو په مقابله کښ د ژوندانه باقی فرائض دهغه په خیال کښ دیو خسنړی

همره وقعت نه لری هم دغه نکته دقومو نود حقیقی ژوند اودعروج نکته ده .

حضرات ! دا هم یو سرکند حقیقت دے چه دے دینی اوعلمی اجتماع ته د مملکت خدا داد پاکستان دمختلفو شعبو نمائندګی کؤنکو حضراتوته دشرکت فخر حاصل دے هغه بین الاقوامی شخصیتو نه هم پکښ جلوه اراء دے چه دژوندانه په جدوجهد کښ هغوئی ځان له دسیاسی میدان انتخاب کړیدے اودتاریخ په موجوده نازك ترین او بحرانی دورکښ مسلمان قوم ته دهغوئی قابل اطمینان اولائق فخر قیادت اعزاز حاصل دے دانسانی شرف امانت داری یعنے هغه عالمان حقانی او عارفان ربانی هم په کښ رونق افروزی دی چه دهغوئ په برخه دانبیاء کرامو علیهم السلام عظیم الشان میراث رسید لے دے اودهغوئی پاکے سینے دخالق کون و مکان د علم و عرفان په انوارو معمور دی. دشعروادب هغه مشاهیر اواهل قلم پکښ هم شته چه هغوئی دحریت افزا نغمو دغلامی په خوب اُوده قوم لره دصور اسرافیل کارورکړے دے .

واجب الاحترامو میلمنو ! حقیقت خود ادے چه تاسو په خپلے تشریف آورئی سره کوم عزت او سر بلندی زمونږه دے ویجاړ کلی ته بالعموم او دارالعلوم ته بالخصوص بخلی ده دهغے دشکرئے دادا کولونه خو مونږه یك قلم قاصر یو، ځکه چه



الفاظ دانسانی قلوبو د جذباتو آئینه داروی اومونږه که هر څومره د مروجو لغاتوورق ګردانی شروع کړو خودا سے الفاظ پکښ موندل مشکل بلکه ناممکن دی چه هغه ځمونږ دقلبی جذباتو آئینه داری اوکړی هاں خپل ځان ددے ذمه دارئی نه دسبکدوش کولو دپاره راته یو ه لا رخکاری اوهغه داده چه تا سو چه د کومے پاکے جذبے ما تحت پدے اهمه مقدسه فریضه کښ دشرکت د پاره تشریف راوړ یدے دهغے اجرب العلمین ته وسپارو ځکه چه هغه خپله فرمائیلی دی نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ یعنی دهر عمل اجرزه مناسب اوډیر ښه ورکونکے یم.

حضرات! تا سو ټو لو ته به داحقیقت معلوم وی چه داکوړی په مزکه کښ دعلم دین دا بوټے چه نن ستا سو مخکښ دیو ډیر ګورتناور اوسیاه دار بوټی په شکل کښ جلو ه کړے دے په کومونا مساعدوحالا تو کښ نهال کړیشوے ووهغه وخت د ملك ذهنی او نفسیاتی خاکه داوه چه اوه سمندروپورے نه یو قوم په ټول براعظم باندے دخپل شاطرانه سیاست خونخوارے پنجے خخے کړی وی د توحید پر ستود پاره د تثلیث پر ستو جوړ کړ شوے رسوائے زمانه بلکه ملحدانه تعلیمی سکیم خپلو زهر افشانو او مسمومواثراتو سره ښارپه ښار کلی په کلی اوکورپه کور خپل تعفن خور کړے وو اوقوم په مجموعی حیثیت سره ددے الحاد اوشرك له زهرو ډ کے آب وهواد تاثیر نه چه رنګارنګ

ذهنی اوروحانی امراضو کښې مبتلا وو د یورپ معاشرت او تمدن ئی د ترقئی معراج گنړلو، او مغربی تعلیم ئی دا انسانیت د تکمیل ذریعه گنړله، دین فطرت دانسانیت د پاره یو گلو افشار طوق متصوریدو قوت ارادی، پختگی عقائد، حریت ضمیر او وسعت فکر تراو صاف نه د یورپ مادی او مشینی عفریت سلب کړے وو دکفر اولاد یڼئی ددے سمندر نه دایمان کشتئے سلامته ویستل قریبا قریبا ناممکن شوی وه.

حضرات ! د دنیا د تاریخ دازوړ حقیقت تاسو ته معلوم دے چه هر کله یو قوم دزلت او تباهئے أَسْفَلَ سٰفِلِيْنَ ته رسید لے دے نو هم په دغه وخت کښې داللہ تبارك وتعالیٰ درحمت سمندر په جوش کښې راغلے دے اود غیبونه ئی دهغے قوم د د ستگیرئی سامان فراهم کړے دے چنانچه دتاریخ د ازاړه سنت دلته بیا تازه شو اود مغربیت په هغه عالمگیر سیلاب کښې چه پاس په یو څو جملو کښې ماد هغے اجمالی نقشه پیش کړه لاهو شوی مسلمان ددسگیرئی د پاره اللہ تعالیٰ د انبیاء علیهم السلام د میراث صحیح وارث حضرت علامه عبدالحق صاحب مدظله راواسته وو اوهغوئی دیو څو داسے مؤمنانو په معیت کښې چه دهغوئی د محمد رسول ﷺ دجاری کړی نظام حیات سره قلبی تعلق وو اود هغے د تحفظ اود بقا د پاره جدوجهد کول ئی دخپل ژوند نصب العین گنړلو دیو مینار نور بنیاد کیخوچه نن هغه ستاسو په



مخکښې د دارالعلوم حقانیه په شکل کښې جلوه گردے نن له هغے مینار نه دایمان پلوشے موجو نه وهی اوهر څلورواړو اطرافوقه ته سو و نو میلو نو پورے ملك او اوسیدو کی د ملك په قدر قدر سره ددغے مینار نه د نور ایمائی اکتساب کوے خشت اول دارالعلوم حقانیه یعنے مدرسه تعلیم القران قائم شده ۱۳۵۶ھ مطابق ۱۹۳۷ء

حضرات ! دهر نوی تحریك د پاره په هر دور اوپه هر ځائے کښې ابتدائی مشکلات او موانعات ناگزیزوی دارالعلوم هم ددے عامے کلیے نه نه شی مستثنی کیدے چنانچه دنورو مشکلاتونه علاوه یو اهم ترین مشکل د دارالعلوم د پاره د سیاسی فضا ناخو شگواری وه ځکه چه د قیام پاکستان نه قبل حکومت غیر مسلم وو او په مقتضاء دالناس علی دین ملو کهم په وجه سره د مسلمانانو د دینی علو مو سره ئی هیچ قسم وابستگی یادلچسپی نه لرله بلکه ځما خو داخیال دے چه هغے حکومت علم دین د مسلمانانو د ذهنی ترقئی اوسیا سی سر بلندئی د پاره یوه غټه ذریعه گنړله او دخپل زهر الوده تعلیم تریاق گنړلو چنانچه هم ددغے وجو هاتو په بناء د حوصله افزائی دپالیسئی پځائے معاندانه رویه اختیار کړے وه خوزه د اللہ تعالیٰ دقرانی فیصلے په موجود گئی کښې په دے سلسله کښې د مزید تفصیل ضرورت نه گنړم هغه قرانی فیصله داده يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِئُوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ وَاللّٰهُ

مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ (الصف:۸)

حضرات! دشمارے په دے یو څو منټو نو کښې دومره ګنجائش نشته چه زه پکښې دعلم دین په عظمت او اهمیت یوه سیرحا صله تبصره اوکړم خو مختصراً عرض دا دے چه مسلمان که د دنیاپه هر ګوټ کښې ولے نه وے اودهر یو قوم نسل او قبیلے سره وابسته ولے نه وی خود نبی کریمﷺ سره عقیدت و محبت دایمان جزء اعظم ګنړی هغوئی په خپله په دے بارے کښې فرمائیلی دی چه (لایؤمن أحد کم حتی اکون احب الیه من والده وولده والناس اجمعین) هم دغه مضمون یو صاحب په اردو نظم کښې راوستے دے چه !......

محمد کی غلامی دین کی شرط اول ہے
اسی میں ہے اگر خامی تو سب کچھ نامکمل ہے
محمد ہے متاع عالم ایجاد سے پیارا
پدر مادر برادر مال وجان اولاد سے پیارا

علم دین د سرور کائناتﷺ یو عظیم القدر میراث مسلمان ته پاتے دے او هغوئی خپله پدے ضمن کښې فرمائلی دی چه !
(ترکت فیکم أمرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله و سنتی)
صحابه کرام رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین چه ددے عظیم المرتبت پحفاظت اونشر و اشاعت کښې دکوم حیرت انګیز انهماك اواستغراق مثال پیش کړے دے دهغے دنظیر نه د تاریخ عالم



صفحات یکسر خالی دی دیو یو حدیث د تفحص او تجسس په سلسله کښې په سوونو زرګو نو میلونه سفرونه کول دیوے یوے فقهی مسئلے په تحقیق او تفتیش کښې شپے رونړه ولی دیو یو حدیث د پاره استخارے کول او په حیرت انګیز احتیاط او باریك بینئی سره دهغے تحقیق او تنقیح کؤل نن چه مونړه په کتابو نو کښې ددے تفصیلاتو مطالعه کوونو حیران اوششدر پاتے شو. ددے متعددواولو العزمو هستو په دماغو نو کښې صرف دغه یو تصور ووچه ددین فطرت دنشر و اشاعت دپاره څرنګ جد وجهد اوکړے شی اود حضور صلی الله علیه وسلم دمیراث شایان شان قدر څرنګه اوکړے شی نن په دے پُر آشوب اوګناه الوده دور کښې مونږ د هغے مقدسو هستو دنورانی مخونو تصور هم نه شو کؤلے چا چه دکتاب اللهاو سنت رسول اللهﷺ په ترویج او تبلیغ کښې خپل پاك روحونه روح افرین ته و سپارل هغوئی ته د دے خپل ژوند متعلق وینا حق حاصل دے ......

چه حاصل عمر نثاره یارے کردیم
شادم از زندګئی خویش که کارے کردیم

حضرات!زه ستاسو توجه دے طرف ته مبذول کول ضروری ګنړم چه دغه دور چه څمونږه اسلافوپکښې د نبی کریمﷺ د مبارك میراث لپاره خپلے زندګئی ختمول عین سعادت ګنړلو هم دغه دور څمونږ د جهانګیرے جهان آرائی جهان بانئی اود

جهاندارئی د انتهائی عروج دوردے او هم دغه دور مسلمانا نو ته دیو زندهٔ جاوید مثالی قوم سند عطا کړے دے داد غنی شاعرانه خیال افرینی نه ده بلکه یو نا قابل انکار حقیقت دے ځکه چه ځمو نړه قومی شاعر علامه اقبال چه دشلمے ۲۰ صدئی په ابتدائی دوو،درو کالوکښ د یورپ او جرمنی په المارو کښ دخپلو اسلافو د ایمان ملغلرے کتابونه وینی نو بے قرار یږی اود دنیا مسلمان ته متنبه کؤلو د پارے په دے الفاظو کښ صدائے عام ورکوی ...... *تجھے آبا گنوادی حکومت مگروہ*) بل طرف ته چه مونړه دنو لسمے صدئی په اخری سلګو کښ دخپل انقلاب زده او زوال پذیر قومی تصویر نقوش د تاریخ په آئینه کښ ګورونو مر نړه ته دهغے دینی کتابونو دنایابو نسخو عا لمتا بے ملغلرے چه دهغے په جمع او ترتیب کښ ځمونړ اسلافو خپلے ځوانئے بیللے وے دومره ګداز مشکلات ئی برداشت کړی وو آرام و آسائش ئی قربان کړی وو هم هغه ملغلرے جرمنی اود انګلستان دکتب خانو زینت په نظر راځی آه! داز مونړ د تاریخ یو ډیر درد ناك باب دے او تاریخ به هیڅیرے ددے بے پروایئ بلکه بے قدرئی د پاره مونړه معاف نه کړی چنانچه غنی یو فارسی شاعر دے هغه ددغے کیفیت نقشه صرف په یو شعر کښ په یو مؤ ثر انداز کښ راخکلے دے حقیقت خود ادے چه سمندرئی په کوزه کښ بند کړے دے هغه وائی چه......



غنی ! روز سیاء پیر کنعان راتما شاکن
که نوردیده اش روشن کند چشم زلیخارا

حضرات ! تا سو ته ما دهغے دور نقشه په یو څو الفاظو کښ خود لے ده په کوم دور کښ چه مسلمان ددے میراث قدر کړے دے اوس ئی درته ددغے پاسنی ذکر شوی دور نقشه په یو څو الفاظو کښ راکازم هغے جهانګیر ته چه دژوندی پاتے کیدلو دپاره دمز کے په مخ د اطمینان یوه ساه قد رهم نه د میسر جهانداری خو پریږده چه دخاد آرائی دامورو په انصرام کښ کور وکړګرځی د جهان آرائی پڅائے کښ د هغه قومی وجود دمزکے په سینه باند یو متعفن ناسور ګنړے شی اود دنیا جهانبانو اقوامو په صف کښ دے یو وحشی او ناقابل التفات عنصر متصور کیږی الحمدللہ! چه نن مونړه مسلمانانو ته قدرت یو ځل بیا ددغے میراث دقدر کولو موقع په لاس کړه دیورپ د ملحدانه او مستعمرانه خپسے نه مونږ دحضرت قائد اعظمؒ د زندهٔ جاوید ایمائی فراست قابلیت او سیاست په وجه خلاص شوی یو حکومت موپه حقیقی معنوکښ خپل دے ځکه په موجوده وخت کښ چه د کومو حضراتو په لا سو نو کښ د ملك د نظام حکمرانئی واګے دی هم هغه حضرات زمونړه خپل منتخب نمائنده ګان دی په قرار داد مقاصد کښ هغوئی کما حقه دے طرف ته د توجه ورکؤلو یقین مونږته را کړے او دایقین د هر قسم

شك و شبهي نه پاك و صاف دے ځكه ددين فطرت د ترقئي او سر بلند ئے مقصد ګڼونړه اود اقتدار اعلیٰ په كر سو رونق افروز حضراتو په منځه كښ مشترك مقصد دے په حيثيت د مسلمان ددے مقصد په اشتراك كښ هيچ وختے دافتراق شائبه قدرے هم نه شي راتلے باقي ددار العلوم دسالانه روئداد دپه رانړاكښ به تاسو تـه دا خبره پخپلـه واضح شي چـه نـه صرف د مملكت خداداد پاكستان د هر ګوټ نه طالب علمانو بلكه دنور و متعددو اسلامي د ممالكونه هم طالب علمانو د علوم حقانيو ددے چشمے نه دخپلے ديني علومو حاصله ولو د شوق تندے ته دتسكين وركو لو پخاطر سفر سقراصعوبات برداشت كړي دي دادارالعلوم دعالمګير مقبوليت او پختګئي ثبوت دے دے نه زيات حقيقت هم اَلَمْ نَشْرَحْ شوبل هيڅ نه شي كيدلے بل ددے موجوده واقعاتو په موجود ګئي كښ دا چه دادارالعلوم يوازے دا كوړي ياد اكوړي داوسيدونكو شے نه دے بلكه د ټول پاكستان اودباكستان داتوكروړ و مسلمانانو مشترك شے دے اوكه د بلند نظرئي نه كار و اخستے شي نو زه په دے وينا كښ حق بجانب يم چه د دنيا و ټولو اسلامي ممالكو اوددنيا دخلو يښتوكروړ د مسلمانانو شے دے .

زه دا محسوس كوم چه دقيام پاكستان نه پس په دے لګه غوندے موده كښ چه دقومو نه په تاريخ كښ دايو لمحه ګڼړے



لے شي مسلمانانو كښ د هر قسم ددينى ملي او ملكى ذمه دارو داحساس جذبه په زور افزون ترقئي ده داد قوم د پاره يو ډير مبارك فال دے ستا سو غوند قابل فخر راه نما يا نو په سر پرستئي اودقوم دذكر شده ترقي پذير جذباتو احساساتو په ډاډګيرنه زه په يقين سره دا وايم چه دا دارالعلوم به زرتر زره ددنيا د هغه دادارلعلوم موپه صف اول كښ ځائے بيا مومي چه دكومو په وجه مسلمانان ددنيا دنورو اقوامو په مخكښ په فخر سره ستركے اوچته ولے شي لكه زمونړددور عروج قرطبه د مصر جامعه ازهر ياد هندوستان دارالعلوم ديو بند په اخركښ زه يو ځل بياد اكوړي له طرفه بالعموم اود دارالعلوم له طرفه بالخصوص ستا سو دبے غايا تو عنايا تو شكرئي ادا كوُلو دپاره هم هغه ړو مبے خيال اخري كوُم چه (ان كان لي طاقة بشكره فالله همن وراء اجره ) يعنے د مناسب عمل پاداش دپاره دخدائي ذات كافي او شافي دے (واخردعوانا أن الحمد لله رب العالمين)

**د دارالعلوم حقانيه پكا ليزه جلسه او د پښتو په مشاعره كښ دعبدالخالق خليق صدارتي تقرير !**

عزتمند و حاضرينو! د اسلام اودين په خدمت كښ د علماؤ درجه ډيره لوړه ده مګردقام اووطن پخدمت كښ شاعران هم يو خاص مقام لري چونكه دشعر تعريف كلام موزون اومؤثردے نو په دے وجه د قام احساسات او جذبات چه څومره يو شاعر

رالېږه ډلے شی دومره یو عام مقررنه شی رالېږه ډلے زمونږه پدے
صوبه کښې کوم سیاسی او مذهبی تحریك چه جاری شوے دے
پښتو شاعرانو په هغے کښې ښه پوره حصه اخستے ده نن چه
زمونږه ملك دغیر قام د پنجے نه ازاد شوے دے او مونږه د خپل
ملك پخپله واکداریو ددے نعمت په حاصلؤ لو کښې پښتو
شاعرانو ډیره لویه حصه اخستے ده داصحیح ده چه پښتو ژبه
ددنیا د نوروژبو نه ډیره ورستو پاتے ده خود دے دا مطلب نه دے
چه پښتو د علمی ژبے جو ړید لو اهلیت نه لری په تاریخی لحاظ
سره پښتو یوه ډیره پخوانئی ژبه ده په دے کښې ډیرو لویو ادیبانو
او شاعرانو طبع ازمائیلے ده ډیرلوئی لوئی علمی کتابونه پد
یکښې تصنیف شوی دی خوشحال خان خټك، عبدالرحمان، سهر
بنی او احمد شاه درانے ددنیا په لو مېږو شاعرانو کښې شمیر لے
شی اوس هم د پښتو ډیر لوئے لوئے ادیبان او شاعران موجوددی
مگرد پښتو دبیقدرئی وجه دعا مو پښتو دخپلے ژبے نه بے
پروائی دا که پښتانه لکه ددنیا دنورو قامونود خپلے ژبے قدر
شروع کړی نود نیاته به ثابته شی چه پښتنودنورو ترقی یافته ژبو
نه په هیڅ وجه کمه نه ده مونږه پښتانه یو مونږه صوبه د پښتنوده
پکار دی چه مونږه خپلے پښتو ژبے ته قدر او عزت په نظر
اوگورو او پښتو د نورو ترقی یافته ژبو سره په سیالئی کښې برابراه
کړو د پښتو یو لوئی خصوصیت دادے چه دا خالصه اسلامی ژبه



ده ددنیا نورے ژبے مسلم او غیر مسلم قومونه پشریکه وائی
مگر صرف پښتو یوه داسے ژبه ده چه ددے ویونکی سل په سل
مسلمانان دے نوزه امید لرم چه ددے اسلامی ژبے ترقئی کښې
به یوازے پښتانه مدد نه ورکوی بلکه نور غیر پښتانه مسلمانان
به هم ددے په خوره ډلو کښې مونږه مدد اوکړی بس زه ستاسو نور
وخت نه اخلم دلته ډیر شاعران راغلی دی چه اوس به هغوئی تاسو
ته وار په وار خپل خپل کلام واوره وی

# اکوړی کښې دسرحد دټولو شاعرانو اجتماع

نن بیاد اکوړه خټك دادب، سیاست، فصاحت او بلاغت نه ډکه مزکه باندے ددارالعلوم حقانیه په سالانه اجلاس کښې دنورو فصیح او بلیغ علماء کرامود وعظ و نصیحت اوتقاریر ونه علاوه...... راؤخیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره: طرح باندِ دماښام ۹:۳۰ بجونه تریولسوبجود پښتویو کامیابه شاندار ادبی مشاعره هم اوشوه دمشاعرے دصدارت ذمه داری جناب عبدالخالق صاحب خلیق د مانکی شریف کوم چه نن صبا د خپل ژوندی ادبیت او فصاحت په وجه بابائے فصاحت بللے شی د ناظم د تجویز مطابق په خلوص د ل سره په سرواخسته په دے لګ اوناکافی وخت کښې چه کومونا منتو اودلوئے پائے ښه پروازه شعرائے کرامود خپل زرین کلام نه شائقین محظوظ اودمشاعرے درونق اور شوکت نوراوعورزوله او هغه دلته لیکم .



(۱) سمندر خان صاحب سمندر (۲) مولاناعبداللّٰه صاحب (۳) جناب نور محمد صاحب (۴) عبدالوهاب صاحب شبنم (۵) عبدالرحیم صاحب فدا سرحدی (۶) شان ګل صاحب (۷) خان محمد زمان خان صاحب (۸) نواز خان صاحب خټك (۹) اجمل خان صاحب اجمل (۱۰) عجیب الرحمن صاحب کسکر (۱۱) محمد فیاض صاحب فیاضی (۱۲) غلام علی شاه صاحب مظهر (۱۳) قاضی عبدالودود صاحب اسیر (۱۴) قاضی عبدالسلام صاحب (۱۵) میاں صاحب حسین شاه (۱۶) رستم خان صاحب سروے پاکستان.

## خان محمد زمان خان

را اُخیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره
کړه داکوړی فضاله علمَ منوره
راشه په مطلع داکوړی هم نمودار شه
اے دقرطبے اود بغداد علمی اختره
ته که دعلومو طلبګارئی راشه راشه
دلته حقانی دارالعلوم دے خوش منظره
داد علمی کوثر چشمه تشنه لبا نو
ساقی ئی عبدالحق شیخ دحدیث دے برادره
ډیردلته لا سونه فاضل اکوړوی شولو

داسـه سـالـه طـفـل دے بهتـر تـر معـمـره
خدا ے بـه دا عـلمی درسگاه ثانی اشبیلیه کړے
دے دروزا فـزون تـرقـئـی پـه لـحـاظ غـوره
درس کـه د جوامـع الـکلم عـجیب اعجاز دے
هـو لـفـظ کــه دجلـه ده مـعـانـی دمستتـره
زربـه صـلاح ورکـړ ودمـغـرب مستشرقینوتـه
شـرق هـم کـړو پیـدا دارالـعـلوم عـرفـان پـووره
شـمـع دعـلـو مـو شـوه روښـانـه سـتـاد پـاره
تـه پـردپتـنكِ پشـان شـه تیـر لـه مـال و سره
مال خو هغه مال دے چه ی په خدائی رسول قربانشی
دیـن پـکـارئـی صرف کـړه جنت واخلـه داوره
تـاسـوتـه فـاضـلـوالـوداع پـه حسرت وائی
اهـل ددے کـلـی لـه فـراق نـه دے مضطـره
اے دهـدایـت اود ارشـاد خـدا ونـدا نـو
تـاسـوعـالـمـانو تـه موفـرش دراح بصـره
اهـل د قـریـئـے تـه دقـصبـے عـلماء واړه
دی پـه مـنـزلـه دروحـانـی مـادر پـدره
عـرض دے مـرحـبا اوهـر کـلـے عـزیـر مهمـانو
ستـا سوپـه خدمـت کـبښ لـه جانب دسخن وره



# غلام علی شاه صاحب

وخت و وجهالت چـه پـه لمحو پـه تنزل کـبښ وه
نـوررونـور دنـور پـه پـلـو شـود کـفـر شـوه
پـړق ئـی دشـغـلـو چـه رونړ صباله دے سحر نه که
ځـی اوښـکے دارے دارے د دُشـمـن لـه هر بصره
ورشـه نسیمِ صبا عـالـم پـه دا خبر کـړه تـه
چـه خیـږی غـلـغـلـئـی دعـلـم دیـن دسمندره
اوس چـه راتـو ئیـگی را تـو ئیـگی راوریـگی دِ
تـل رحـمـت نـایـابـه پـه شبـو پـه کـو زلـه بره
دادیـن چـمـن چـه سـردوبـاره ئـی سیرابـه کـړه
خدا یـه پـه شیخ الـحدیث لو گـے لـه مال و سره
خدا یـه تـه ئـی مشعل کړ په فضل و کرم رنړا رنړا
دا کـه مستـجـابـه دعـا گـانـے دمظهـره

# عجیب الرحمٰن کسکر

خیـږه نـورا وچت شـه دشفـق نـه خندنـه درومـه
څـهٔ گـر څـه طالـب تـه پـه خـندا دِ مستند درومه
تبـة بـرفلـك تـه څـه ربـتیـالـه غـرځـنه درومـه
قطـعـه دتـنـزیل رسـئـی کـه بس څـه مخکے پـه بره
راو خیـږ ه پـه بیـرتـه دمـذهـب دعـلـم نـوره

# مولانا عبداللّٰه صاحب

جوندئے د افسانے شه دسرور ﷺ په برکت
سینے د خزانے شه د اکبرؓ په برکت
تول زړونه د خانے شه د عمرؓ په برکت
خورے د ترانے شه د حیدرؓ په برکت
مضبوط د مدارج اوسه له سد سکندره
راو خیژه په بیرته د مذهب د علم نوره
فاتح اوسه تهذیب دصلیب اووهه ممدوح شه
الحاد په حیدری نعرو خبر که چه مفتوح شه
معلول د محرك شه رك شه یا پرګ کښې روح شه
عمل دځان سره کړه د کشتئے دجسم نوح شه
راهب د سیاست په ډاګه اوله د منبره
راؤخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره
اے علمه پعمل کښې عالمانو ته رنګ ورکړه
په دغه رنګ کښې رنګ شه طالبانو ته رنګ ورکړه
رنګو نه ترِ نورلرے که خانانو ته رنګ ورکړه
بے رنګه دی رنګ راوړه شاعرانو ته رنګ ورکړه
ددے نوے غوجل دسیاساتو له سخوندره
ځان بچ کړه عبدا للّٰه چرے قربان نشے له خکره



# فدا سرحدی

یو هسے انقلاب په کائناتو کښې پیدا کړه
چه شی واړه ذرے ددغے رازه با خبره
کبل اوتهوکوه چمنستان کښې د احساس
ورنیره هره زیله ئی کړه پورے له ځیګره
شبنم دخپلے مینے پر حر هرځکے ډکو هر کړه
په تپ دخپلے مینے ئی بوځه لا عرشه بره

# محمدنواز ختك

رحمت په دے کسانو حقانی درس ئے جاری کړو
همت ئی رب نصیب کړه بانی درس ئے جاری کړو
چه ښائی احادیث و قرانی درس ئے جاری کړو
شی بچ به ضلالت نه روحانی درس ئے جاری کړو
خټکه اوس به نه کیږی ګلے له مقدره
راو خیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره

# محمد فیاض

وی تل په اکوړی کښې د دارالعلوم اباد
بزرګ شیخ الحدیث صاحب ئی ایخے دے بنیاد

گلزارئی اکوړے کړوراپسے مه شه د غم باد
خوشحاله دمدام ئی چه دارنگ کړو ایجاد
خالق درجه کړه له د زیاته مقرره
راو خیژه په بیرته د مذهب د علم نوره

# شان گل

باران دخیرو فیض ؤه په دنیا أووریدلو
په قدرا ستعداد پر تهول زمین او تهو کیدلو
دسرائے دکلی مزکے زرغونه ئ کړه د گلو
خوشبوئے کل جهان کړلو ترمشك وتر عړه
راوخیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره
الله داکوړی دارالعلوم لکه دیو بند کړے
علوم ترنه خواره تر بخارا او سمر قند کړے
شان گل کوی دعا چه فیض ئی هر چاته سرگنده کړے
دانوے باغیچه مُوله خزان کړے بے خطره
راو خیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره

# عبدالو هاب شبنم

دعلم په زیور کښ اراسته ښکلی دلبره
راشه په پرانستی تندی أخانده دسره



دتوروتیرو شپو ته د جهل ورکړه تهکره
راؤخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره
دے ستوروسپورمئی ته ارام ورکړه پعمل د خیر
داحقانیه دارالعلوم خدائی که امل دخیر
اقبال عطا رد نصیبه شه مکمل دخیر
هو کار کښ پکاردے دالله نه سوال اول دخیر
خیر دوی شبنم ته ددے وخت له باد ضرره
داپی جهان تهول دبیدنی یخنی شوه ستره
راوخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره

# ملك شیر علی خان

دے باغ مالیان خکلی پکار دی دوطن
په شوق چه طالبان په دغے باغ کښ کړی لوستن
تازه چه تل ترتله وی دغه خکلے چمن
خوشبو یه به وطن شی تهول ددے شجرثمره
راو خیژه په بیرته دمذهب د علم نوره
قاضی عبدالودود اسیر
عزت دبنی ادم وی په علم اوا ادب
هیح شے نه دے اسلام کښ ددنیا مال اونسب
واقف له دے رازه عالمان دی د مذهب

محتاج د عالم ځکه رهبرئی ته دے رهبره
راو خیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره

## تکریم الحق کاکا خیل

دادارالعلوم ځمو بزدژوند یو نشانه ده
بیا زمونږ ه پلاس کښ دحق پټه خرانه ده
ډیرنا کاره وخت دے ډیره سخته زمانه ده
خدائی دتوفیق راکړی چه دانیك کارکړو ترسره
ستاپه رنړا یئی کښ د مذهب دعلم نوره

## فقیر حسین فقیر پسر پوست

## ماسټر حاجی غلام حسین صاحب

همیش نوے مطلع وی ستاپه هره زمانه کښ
شافعے بو حنیفه غوند ساقیان وی میخانه کښ
یوشان سرایت کړی فرزانه اودیوانه کښ
حقانی دارالعلوم قربان دے ستاپه استانه کښ
ډیوے نوے بلئی پدے زړه سیاه خانه کښ
اورنگ دحقیقت ډکوی ستاپه افسانه کښ



دولتمند مسلمانان کړه له علم او هنره
په رنړا د دمسلم سینه که بیاته منوره

## ماسټر عبدالجبار مضطر

دنیا او اخرت دی سره دواړه لرے لرے
دنیا خوشی میره ده یو غوایه پشان سری
سبنه څیزته نظر نه کړی ناقص بوتي پکښ نفری
توښه دعمل جوړه کړه پریده نورے خبرے
الله نه عفوه غواړه په هر وخت کښ اے مضطره
محرومه لا څوك نه دے دهغه له پاکه دره

## سراج الاسلام سراج

دے ورك مسلم ته اُخایه ورکشوی نشانونه
په وړواندِورته کیده بیاتیرشوی مثالونه
دعلم نوره لرے کړه له مخه حجابونه
لرِ اوچ کړه دسراج دګرمو اوښکو سیلابونه
ښادی په راختو دِے که نه ده له اختره
راوخیژه په بیرته دمذهب دعلم نوره

## محمد معشوق باجوړی متعلم دارالعلوم

اظهار د جبروة او ردلاهوة زمونږه پڅان
الله جلیل احسان اوکړو پدے خوشی بیابان
اکوړه ختك کښ جوړ دارالعلوم شو مقبره
راوخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره

## عبدالکبیر صاحب

نن په اکوړی کښ راښکاره هر معموم دے
بحر دفیضان حقانیه دارالعلوم دے
سرۀ زرراؤ باسی علامه د خاکستره
راوحیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره

## سید انور علی شاه بخاری پسر

## سید بخاری صاحب

راوخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره
خورے دے کړه شغلے کړه دادنیا پر منوره
راوخیژه په بیرته کوه روښان واړه جهان
کړه ملك په خورید و سره په موښره گلستان



نن شه په پاکستان کښ په مونږ فضل له اکبره
راو خیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره
نن وینم اکوړے چه ورځ په ورځ کړی ترقی
هذا من فضل ربی
نصیب مواتفاق کړے پکښ شته عالمان غوره
راوخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره
نصیب مواتفاق کړے چه اکوړے
پرے تل روښان وی مخ ئی نورانی غمازیان وی
دے دا فخر د پاکستان که ته پو هیږے برادره
راوخیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره

## عطا محمد

الله د سرفراز کړه د رسول په برکت
رنړاد شه روښانه په حرمت و صداقت
نصیب د پدنیا کښ دعمر شه عدالت
عطا شه محمد تیلی ته ښکلے بلاغت
انصاف که وی وحق چرے په تاکښ زوره وره
تیلی درته نکتے دبلاغت ایخے شاعره
راو خیژه په بیرته د مذهب دعلم نوره

# حسین شاہ

لہ مشرقہ تر مغربہ نن ظلم وکفر زور دے
بیدار د علمان کړہ فساقونن پیغوردے
کاردے تبلیغ ولے دنیا پسے ئی شور دے
پہ عیشونوئی نظرے دے یرہ نہ کړی لہ سقرہ
راوخیژہ پہ بیرتہ دمذهب دعلم نورہ

# ہدایت احمد شافیاض

معدن دملغلرودعرفان اکوړے تل دوی
تل بر یښیدعلم ملغرے لہ دے درہ
چاپیرہ اوازونہ درود نہ اونعرے دی نن
خندادہ خوشحالی دہ پہ چمن دنوی سرہ
راو خیژپہ بیر تہ دمذهب دعلم نورہ

# محمد شریف متعلم دارالعلوم

تہ هم دارالعلوم حقانی کښی شوے داخل
هر علم هریر فن هریو تهذیب دکړوحاصل
اس دستار بندی د مبارك شہ اسرے ورہ



را اوخیژہ پہ بیرتہ دمذهب دعلم نورہ
وائی محمد شریف شیخ الحدیث د رب جوندی لری
بل د ددے پاك دین بوتہے تل پخپلہ دے کړی
بل تل دے دِدنیا تہ ځی فضلاء دپښاورہ
رااُو خیژہ پہ بیرتہ دمذهب دعلم نورہ

# سید نواز فاضل دارالعلوم حقانیہ

لرے دمسلم نہ شپے د جهل کہ راؤ خیژہ
جوړ د اکوړی نہ بخارا کړہ بختورہ
دادارلعلوم دارالانوار پخپلوا نواروکړے
پورتہ ئی پلو شے کړہ زیات دجامع ازهرہ

# حافظ محسن شاہ

راو خیژہ پہ بیرتہ دمذهب دعلم نورہ
خدائی رسولہ موصوف کړے پہ قران کښی یی تہ گورہ
اسلام ددغ نوم دے چہ حاصل کہ تاپہ نرہ
عمل درنہ چہ واخلی پہ دنیا ئی بهرہ ورہ
معدوم کہ لہ دنیا شی دنیا واړہ بہ تورتم شی
تیارہ کښی خوځوك نہ وینی خہ بد سرہ پغورہ